(c) ketabton.com: The Digital Library



حاصل

بیا مو په کلیو، کروندو کې
د ماتم د ماښامونو ډمې ونڅېدې
بیامو د ژوند واټ
د سرو اوښکو دماښام شفق
په وینو سور کړ.
او په دې سترېو کروندو کې
د غنمو او گنیو د هر فصل پر ځای
هره شپېه د ځوانیمرگ ژوند
اود سرو وینو حاصل اخلو.

٢٦/٤/١٣٦٨

کابل

دا ستوري هم توپې شول
دا ستوري هم توپې شول
دا سپوږمۍ هم بوره شوه
او ددې شپو تورو ځنگلونو کې زېږېږي
او لوېږې د شرمښو
او د دښتو د بگوو بچي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرۍ زموږ د ژوندسپېڅلی او محکوم کلام دی

ګرۍ، پېرۍ ده چې کړه ملا سمولی نه شي

ګرۍ غریبه

د پېړیو د سکون پېټی په سر ګرځوي.

⊠⊠⊠

کاڼه په لارکې د مېړیود راتلو شېبو ته غوږ ایښی دی.

ړونددګلونودرنګونو تماشې ته ناست دی

١٤/٣/١٣٧١

کابل

**پوښتنه**

دومره قدری یادشي چې یوځه خو دې په تله ووې

پوه نه شوم قسم دی چې تا څه ووې ما څه ووې

ټوله شپه رښتیا دې پټ د زړه کور کې ساتلی وم؟

یو غلچکی خوب و په کاله مې تېرېده ووې

ستا دنظر تندر ته مې ټول خوبونه درمند شول

چاراته له وریځو نه خبر د بارانه ووې؟

ویښ وم که ویده وم خدای زده ډېرې مودې تېرې شوې

مینه دې له زړه وه او که هسې دې په خوله ووې؟

کړې مې وعده وه چې دې بیا په کلي نه درځم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لويه خدايه لويه خدايه! دا څه يمه دا څه يمه.

ټول کهول مې جارجارو واى خو((شفيق))راته په کور واى
دا زلمى ستورى د کور مې د نيکه پر درگاه خور واى
تل دقام د پگړۍ گل واى د ټبر د پت انځور واى
غم يې تل زماپرسر واى دا دژوند پر نيلي سور واى
دده درد واى زما مرگ واى دده کور واى زما گور واى
زماخونه واى خرابه خو ودان نغرى د ورور واى
تولعنت زماپه غم شه زه يې زوړکړم دى زوړ نه شو
کال په کال رانه کښت رېبي خو ورِ سترگى دى موړ نه شو

لايې سيوري ته ناست نه وم ځوانيمرگ شو بهار وسو
سم چې گل جوړشوشلمې ته، شمله وسوه گلزار وسو
چې راخوت د سهار ستورى، ستورى وسوسهار وسو
هغه ږنگه ځواني وسوه هغه دنگ سپېدار وسو
ځارېدې چې ورنه ښکلې ها دښکليو سردار وسو
گلالى لالى مې وسو، وطن وسوځېد ښار وسو
پر هر سربانديې اوربل دى سر دې پورته کړه ((شفيقه))
پر مزار بانديې دې سوځي له (يمينه))تر ((عقيقه.((

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کوچۍ کېږدۍ

ما خو ټول عمر له کوچيو سره مينه کړې.

۲۶/۸/۱۳۸۲

لغمان

مېرمنې ته ليک:

## کورمې

شپې شي، شپې ومري

او د ورځو اوښې بيا وزېږي، بياقتلې شي

خو زه ژوندی يمه د شپو، ورځو د قتل انتظار ته ناست يم

ويې خښم، ويې خورم،

ګړۍ، ګړۍ ويده پاتې شم، بيا پاڅېږم

پورته شم، بيا يې وښخم، بيا يې وخورم، بيا ويده شم

شپې شي،

شپې ومري،

او د ورځو اوښې بيا وزېږي

بيا قتلې شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ((ایوب)) د میوندونو سرِی نه شو

فرهاد شته دی، تېشه شته خو غرِ یې نه شته

پښتانه هسې ژوندي دي زورِ یې نه شته

دا چې نن د خونړي کاروان رهبر دی

د اوبو د ژیو هغه سوداګر دی

د زرتشت اور یې شهید کړِ سیلاب راغی

اورنی پر درمندونو دریاب راغی.

۲۲/٥/۱۳۷٤

کابل

## زېږدا

هغه ګړی خدای د جنت د ښکلو حورو

د لیمو پاڼو کې

د ښکلاګلو ته په لپو ورکولې اوبه

چې ته راوزېږېدې

او ته د خدای دباغیچو د سرو ګلونو

هغه شنه ((ورِمه)) شوې.

٦/٧/۱۳۷٤

کابل

## زېږې (۲)

Download from: ketabton.com

